

# د کمونیست ګوند مانوفیسټ

کارل مارکس او فردریش انګلس

## ـ په ساده ژبه ـ

د بیا ټایپ، سمونې او بشپړولو چارې: خسرو ګلسرخي

کال:۱۳۹۹

د نــــړۍ کارګــــرانو ســــره يــــو شئ!

## یادونه!!!

سره له ډېرو پوښتنو او ګروېزنو ونه توانېدم چې د دې علمي - تاریخي سند پښتو ژباړن ومومم؛ تر څو مو د هغه له نوم څخه دلته یادونه او مننه کړې وي. په هر صورت، زه او زما ملګري له دې واقعي اتل څخه په کراتو مراتو نړۍ مننه کوو چې د وخت د اړتیا او پښتو ژبې د لا غناء په موخه یې د دې علمي شهکار ژباړې ته اوږه ورکړې وه. که ژوندۍ وي د ښه او آبرومندانه ژوند هیله ورته کوم او که له نړۍ څخه یې سترګې پټې کړې وي نو روح دې ښاد او یاد دې د تلپاتې وي!

نه غواړم چې په یاد اثر بله سریزه ولیکم ځکه چې هغه تکلیف خپله ژباړن په ډېر ښه توګه تر سره کړۍ - یوازې د کتاب ځینو نیمګړتیاؤ ته دلته اشاره کوم تر څو لوستونکې په دې پوه شي چې د کتاب په پوښتی لیکل شوې؛ دې جملې [ د بیا ټایپ، سمونې او بشپړولو چارې] همدارنګه. په ساده ژبه. څخه زما موخه څه ده؟

یاد کتاب مې د ګران او محبوب هیواد افغانستان د یوه ښار په کتابتون کې د ۲۰ افغانیو په بدل کې راونیو چې له نیمګړتیا څخه خالي نه وه او وروسته له څو ځله لوستلو مې په کتاب کې شته نیمګړتیاوې چې ښکته مې په ماده ییز ډول کښلي دي له ځان سره یاد داښت او د کتاب د بیا ټایپ، د اړینو نیمګړو متنونو د ژباړې د بشپړولو او پخوانۍ ژباړه کې د شته تېروتنو د بیا سمونې هوډ له ځانه سره وکړ.

یادول غواړم چې یاد کتاب د اصلي متن ساده بڼه ده؛ په دې مانا چې دلته د اصلي متن څخه په استفادې د هغه مفهوم په ساده الفاظو وړاندي شوۍ نه ټکي په ټکي ژباړه! چې په راتلونکی کې د مانوفیستټ د اصلي متن لوستلو لپاره خورا اغېزمن تمامېږي...

۱-د کمونیست ګوند مانوفیستټ نومې کتاب باندي شاوخوا ۸ سریزې د مارکس او انګلز لخوا لیکل شوي چې په تاسف سره ژباړن یوه هم نه ده ژباړلې هغه ؤ چې د هغو له جملې څخه مې یوه سریزه چې مارکس او انګلز د کتاب په روسي ژباړه لیکلي وه، وژباړله...

۲-په یاده ژباړه کې د اصلي متن د ډېریو اړینو برخو نه یوازې ژباړه شوې بلکې تر څنګ ئې د هغوی د مفهوم پښتو کول هم نه دې ذکر شوي، چې تر ډېره ئې د کتاب پیام لوستونکو ته نشوای رسولای! دې مهمې نیمګړتیا ته په کتو سره مې ډېری برخې وژباړلې او د ځینو برخو د ساده مفهوم په ذکرولو مې بسنه وکړه...

یاني قوس د ننه لیکل شوي مفهومونه زما له لخوا وراضافه شوي دي او پاتي دې نه وي چې د کمونیست ګوند مانوفیستټ څلورم څپرکي ټوله ژباړه مې خپله د دې پخاطر وکړه چې پخوانۍ ژباړه له ګڼو تېروتنو تر څنګ نیمګړې هم وه...

۳-د ژباړې په ځينو برخو کې لکه څنګه چې خپله ژباړن هم ورته ګوت نيونه کړې، املائي تېروتنې موجودې وې چې هغه هم تر ډېره بريده اصلاح شوي دي. همدارنګه تر ډېره بريده هڅه شوي ده چې د پښتو ويو څخه کار واخيستل شي...

خ – ګلـسرخي

## سریزه

مارکسیزم د زیبښاک څخه د پرولتاریاؤ د خلاصون علم ـ د بشر په تاریخ کې د علم او فلسفې د پر له پسې تکامل ــ د خاصو عیني شرایطو ( د طبقې په حیث د پرولتاریا منځ ته راتلل ) او د مارکس او انګلس د فکري نبوغ محصول دی.

مارکس او انګلس د علمي سوسیالیزم بنسټ ایښودنکي دي. د دوی په نزد علم د تاریخ په اوږدو کې یو متحرکه او انقلابي ځواک دی - چې د هغه پواسطه مارکس او انګلس د جهان بدلون په نظر کې لري. دې هدف یاني په جهان کې انقلابي بدلون د حاکمو طبقو د ظلم او زیبښاک څخه محکومو طبقو خلاصون او په طبقاتي مبارزو کې د زیبښاک کېدونکو طبقو علمي او عملي ملاتړ مارکس او انګلس د یوه داسي علمي ځواک خاوندان کړل چې تر هغه پورې ئې د بشر په تاریخ کې ساری نه درلود.

علم او عمل د مارکس او انګلس په وجود کې سره تړلي ؤ ؛ دوی د جهان د لویو انقلابیونو په حیث لوی عالمان او د لویو عالمانو په حیث لوی انقلابیون ؤ.

د نړۍ امپریالیستي او ارتجاعي ځواکونو د هیڅ ډول هڅو څخه دریغ نه کوي چې د دې علم انقلابي ماهیت غلط ثابت کړي. که څه هم تیري کوونکي مرتجعین او د هغوی مزدوران او س د تیوري په لحاظ مستقیماً علمي سوسیالیزم باندي حملې څخه څه نا څه ډډه کوي. اما د خپلو طبقاتي ګټو د ساتلو د پاره تل ادعا کوي چې په اوسني وخت کې مارکسیزم زوړ دئ. د مارکس او انګس د وخت شرایط بدل شول او داسي نور...

دا نور بینا خو د مارکسیزم د دقیقي مطالعې لپاره ړانده او یا قصداً د دې علم دښمنان په دې واقعیت سترګې پټوي چې د مارکسیزم ماهیت په دې کې پروت دی چې هغه په عمومي ډول د تاریخ په بېلو بېلو مرحلو کې د بشري ټولنې د تکامل عیني قوانین بیانوي. د ټولنیزو قوانیو او د ټولنې د شکل بدلون یاني په خاصو تاریخي مرحلو کې د ټولنیزو طبقو راڅرګندېدل د هغو څرنګوالې او متضادو طبقو تر منځ د مبارزې طرز مارکسیستي علم له مخې اصولاً تولید او تولیدي قواؤ په ودئ[تکامل] پوری اړه لري. مارکس لیکي: د طبقاتو شتون د تولید د ودې[تکامل] په یوې ټاکلي تاریخي مرحلې پورى تړلي دي.«مارکس-انګلس-منتخب اثار په دوه ټوکه کې ـ دویم ټوک ـ ۴۲۳ نه برلیت ۱۹۷۰م کال ـ په جرمني ژبه ) د تولیدي قوې د ودې له مخې تولیدي مناسبات او د هغوی قوانین چې دا مناسبات تنظیموي تغیر خوري... د دې پلټنې علمي ارزښت د هغو خاصو قوانینو په څرګندولو کې پروت دئ؛ کوم چې د یو ټاکلي ټولنیز ارګانیزم منځ ته راتلل ـ موجودیت

ـ تکامل او د هغه مرگ او په عوض ئې بل ـ نسبت لومړني ته لوړ او بشپړ ټولنیز ارگانیزم د هغه ځای نیول ـ تنظیموي. ( مارکس ـپانگه«کاپیټال» لومړئ ټوک ۲۶ـ۲۷ مخ برلین ۱۹۷۰ په جرمي ژبه )

زموږ په فکر په افغانستان کې په دې خاصه تاریخي دوره کې د تولیدي قواؤ او د هغوی د څرنګوالي سره سم ټولنیز متضاد طبقات شتون لري. نو ځکه طبقاتي مبارزې لپاره د مارکسیزم د اصولو څخه خلاقه استفاده نه یوازي دا چې شوني ده بلکې د زبېښاک څخه د زبېښاک شویو طبقاتو د خلاصون لپاره یوازېنی علمي لار او په دې مبارزه کې د بریالیتوب لپاره یو تاریخي اړتیا ده.

په ټولو هغو هیوادونو کې چې نه پخلا کېدونکې [انتاگونیستې] تضاد وجود لري، حاکم طبقات د خپلو طبقاتي گټو د ساتنې لپاره د نورو له مخې د خلکو په ناپوهي او بې سوادي تکیه کوي. په دې کې د افغانستان حاکمې طبقې د نړئ ریکارډ مات کړئ دئ. د علم او سواد مخصوصاً د علمي سوسیالیزم په وړاندي د افغانستان حاکمې طبقې حساسیت د هغوی طبقاتي ماهیت څرگندوي ـ ځکه علمي سوسیالیزم د بورژوازي د تش په نامه علم په خلاف په ټولنیز او سیاسي ژوند کې خپل طبقاتي دریځ ښکاره کړي. او په څرگنده اعلان کوي چې د زبېښاک شویو طبقو په خدمت لگیا دي.

په افغانستان کې د طبقاتي مبارزې د چټکتیا او پورتني واقعیت له مخې ځینو افغاني روڼ آندو دې ته ملا وتړله چې د علمي سوسیالیزم د زېږېدو نښه (کمونیستي مانوفیسټ ) په پښتو ژبه وژباړي.

موږ نه غواړو چې په دې سریزه کې د دې تاریخي اثر په مانا باندي ډېر وژغېږو. گران لوستونکي د دې ژباړې د مطالعي په اثر ځانته یوه عکس ترې واخلي. ۲۵ کاله وروسته مارکس او انگلس په مانوفیسټ نوئ نظر واچؤ. دوی ښکاره کړه چې په عمومي ډول په دې تاریخي سند کې پراته اصول نن هم صحت لري که څه هم ځیني فرعي جزیات باید اصلاح شي د مانوفیسټ د اصولو عملي کول لکه چې مانوفیسټ ئې پخپله ښکاره کوي هر چېري او هر وخت په خاصو شرایطو پوري اړه لري. نو ځکه د دویم څپرکې وروستنی برخه د اوسنیو شرایطو سره پوره مطابقت نه کوي. د فبروري انقلاب خصوصاً د پاریس کمون ثبوت کړه چې پرولتاریا د بورژوازي دولت پخواني تیار ماشین د خپلو گټو د پاره نشي کارولای او باید وران شي. په همدې ډول د دوی په نزد په سوسیالیستي ادبیاتو باندي تنقید نمگړتیا لري. ځکه چې دا د ۱۸۴۷ م کال پوری وخت په بر کې نیسي د کمونیستانو دریځ که څه هم اصولاً سم اما د تفصیل له مخې زوړ شوي دي ځکه د هغه وخت زیات حزبونه اوس له منځه تللي دي.( وگورې. د مارکس ـ انگلس ـ د کمونیست گوند مانوفیسټ سریزه د ۱۸۷۲ ـ برلین ۱۹۶۷ ـ په جرمي ژبه )

حتماً به په دې ژباړه کې زياتي نيمګړتياوي موجودي وي. د دې نمګړتياؤ علت د تخنيکي نمګړتياو په څنګ کې اولاً دا دی چې موږ د ژباړې په چارو کې هيڅ تجربه نه درلوده. بل دا چې د دې ژباړې لپاره يوزاي د دوو ژبو څخه استفاده شو ي ده. پرته له دې په پښتو ژبه کې د خاصو اصطلاحاتو موندل د ژباړي په لاره کې خنډونه واچول او د نورو کارونو د فشار له مخې دې ژباړې ته د لازم اوږده وخت ورکول ناشوني ؤ.

سره له دې موږ ته د انتظار څخه اقدام او د نشت څخه د نيمګړي ژباړې شته والی ګټو ښکاره شو. په دې هيله چې د مظلوم اولس د ازادي او د پښتو ژبې د علمي کولو په لاره کې مو لومړنی مګر نميګړی عملي ګام اخيستی وي.

ژباړونکی

(د)

## د مارکس او انګلس سریزه

--------------------------------

### د روسي ژبې دویم چاپ ۱۸۸۲ م کال

د کمونیست ګوند مانوفیسټ لومړنی روسي چاپ چې باکونین ژباړلئ ؤ، د شپیتمي لسیزي په لومړیو کلونو کې د «کولوکل» نومې چاپتون کې چاپ او خپور شو. هغه وخت د غرب له نظره په روسي ژبه د مانوفیسټ خپرول یوزاي یو ادبي نوښت بلل کېده. چې دا لیدلورئ اوس نا سم او بې خونده دی.

دا چې کمونیستي غورځنګ هغه مهال (د ۱۸۴۷ کال دسمبر میاشت) کې څومره محدوده ساحه کې ؤ، هغه مطلب دی چې د مانوفیست څلورم څپرکې یې راته په روښانوي. په دې څپرکې کې د روسې او امریکا اړوند څه نشته. دا هغه وخت ؤ چې روسې د اروپا وروستنی ستره ارتچاعي ذخیره تشکیلوله او امریکا د اروپا اظافي پرولتري ځواک ځانته جذباؤ. دې دواړو هیوادونو اروپا ته خام مواد او د صنعتي توکو د خرڅلاو لپاره د بازارونو وړاندي کول. نو په دې اساس هغوی دواړه هر یو په یوه نه یوه شکل په اروپا کې د شته نظام تکیه ګاوې وي.

اوس دې وضعې څومره تغیر کړی دی! همااغه د اروپایانو مهاجرت د شمالي امریکا په کرنیز تولید کې دومره زیاتوالی شوني کړی چې اوس د سیالی په نتیجه کې د اروپا لوی او کوچني ځمکنی مالکیت لړزوي. همدارنګه دې مهاجرت امریکا ته دا وړتیا بښلي چې له سترو صنعتي سرچینو څخه استفاده وکړي چې په لنډ وخت کې داروپا په ځانګړي ډول د انګلستان انحصاري صنتعت ته د پای ټکی کېږدي. دا دواړه عامله خپله امریکا کې هم انقلابي اغېز ښندي. د بزګرانو/فارمرانو کوچنی او منځنی ځمکنی مالکیت چې د دې هیواد د سیاسي نظام بنسټ تشکیلوي په پراوېزه ډول د سترو فارمونو سره په سیالی کې مغلوبېږي او له منځه ځي او ورسره په صنعتي حوزو کې د لومړي ځل لپاره د زیات شمېر پرولتري پرګنې زېږي او د پانګو حیرانوونکی تمرکز صورت مومې.

اوس روسیه په نظر کې نیسو. د ۱۸۴۸ – ۱۸۴۹ انقلابونو په دوران کې نه یوازي د اروپا واکمنانو بلکې بورژوازي هم د ویښې شوي پرولتاریا څخه د ژغورني یوزایني لار د روسې مداخله بلله. تزاریې د اروپا د

ارتجاع لارښود باله. خو اوس چې هغه په ګاتچینا کې اوسېږي د انقلابي جنګ اسیر او روسیه د انقلابي غورځنګ وړاندي تلونکی او مخکښه ده...

د کمونیست مانوفیسټ دنده په لنډ وخت کې د بورژوازي مالکیت د له منځه تلو اعلانول ؤ. خو موږ روسیه کې وینو چې د تبه لرونکي پانګولۍ چټکه وده او په ځمکه باندي د بورژوازي مالکیت چې نوی پیل شوئ دی له نیمايي نه ډېره ځمکه د بزګرانو په ټولییز واک/جمعي تملک کې ده.

اوس دا پوښتنه راولاړېږي چې آیا روسي بزګري کمون چې اوس سره پاشلئ دی کولای شي مستقیماً په عالي شکل یاني په کمونیستي شکل د ځمکي په تملک واوړي؟ او یا دا چې برعکس لومړی باید هماغه پروسه (د تجزیې او پاشل کېدو لړئ) چې د غرب تاریخي ودي وهلي ده، تر سره کړي؟

یوازینی ځواب چې اوس یې دې پوښتنې ته ورکوای شو هغه دا چې که چې چېرته د روسیي انقلاب په غرب کې د پرولتري انقلاب د پیلېدو لپاره پیلامه وګرځي او په دې ډول دواړه انقلابونه یو بول بشپړ کړي، هغه وخت بیا د روسیې اوسنی جمعي ځمکنی مالکیت هم کولای شي چې د کمونیستي ودې پیلامه شي.

لندن د جون ۲۱ – ۱۸۸۲ کال

کارل مارکس

فریدریش انګلس

د کمونیزم وهم په اروپا کې خپرېږي او د دغه وهم په وړاندي ټول ارتجاعي قدرتونه (پاپ ـ تزار د آلمان پولیس او نور ) سره یو کېږي.

چېرته دي هغه مخالف ګوند چې حکومت پرې د کمونیست ټاپه نه وي وهلي!؟ او چېرته دي هغه مخالف ګوند چې پخپل وار ئې تر اپوزیسیونه په یو ګام وړاندي عناصرو او هم پخپلو مرتجع مخالفییو د کمونیست ټاپه نه وي وهلي ـ له دې څخه دوه حقیقتونه څرګندېږي:-

یو دا چې کمونیزم یو قدرت دئ ـ او بل دا چې اوس تر ټولو مناسب وخت دی چې باید کمونیستان ټولې نړۍ ته خپل نړۍ لید[جهان بیني] ـ موخې او تمایلات څرګند کړي او د کمونیستي ګوند د مانوفیست په وړاندې کولو سره د کمونیزم د وهم افسانې له منځه یوسي.

د همدې موخې لپاره د ګڼو ملتونو کمونستان لندن کې سره راټول او دا لاندي مانوفیست[کړنلاره] یې وکښله چې همدا اوس په انګلیسي، فرانسوي، آلماني، ایټالوي، فنلانډي او ډنمارکي ژبه هم خپرېږي...

## لومړی څپرکی
## بورژوازي او پرولتر
----------------------------------

تر دې دمه د نړۍ د ټولنو تاریخ د طبقاتي مبارزو تاریخ دی. د تاریخ په اوږدو کې تل د بادار او مرئي، خان او بزګر، د کارځای استاد او شاګرد، بورژوا او پرولتر ، زبېښاک کوونکي او زبېښاکېدونکي لنډه دا چې د ظالم او مظلوم تر منځ کله پټه او کله جوته مبارزه روانه وه چې په نتیجه کې ئې انقلابي بدلون په ټوله ټولنه کې منځ ته راغی چې د ټولنې بنسټ بدلوي.

د تاریخ په هره دوره کې ټاکلي دښمن طبقات موجود ول لکه د مرئیتوب په تاریخي دوره کې بادار او مرئي او بیا د فیوډالیزم د تاریخي دورې په راتلو سره خان او بزګر چې دا هم خپل ځای بورژوازي ټولنې ته پرېږدي.

د فیوډالي ټولنې د زوال څخه منځته راغلي بورژوازي ټولنه هم طبقاتي تضادونه له منځه نه وړي بلکې نوي طبقې د زبېښاک(استثمار) او ظلم نوي شرایط او د مبارزې نوي بڼې منځ ته راوړي.

د بورژوازي په تاریخي عصر کې طبقاتي تضادونه لا پسې جوتېږی ـ ټولنه په دوو دښمنو طبقو بورژوا[پانګواله طبقه؛هغه چې د تولید اوزار د دوی په لاس کې وي.] او پرولتاریا[مزدوره طبقه؛ هغه چې د تولید وسایل نلري او د ژوند کولو په موخه اړ دي چې  خپل ځواک په بورژوا وپلوري.] بېلېږي. کله چې د منځنیو پیړیو په ځمکه پورې تړلي بزګرانو څخه ښارمندان او د دوی له منځه بیا بورژوا عناصر  وزېږېدل.

د امریکا کشف، هند ته بحري لارې موندل، د هند او چین بازارونو، د امریکا ښکېلاکول او د ښکېلاک(استعمار/مستعمره) شویو هیوادونو سره اقتصادي اړیکو د سوداګرۍ او بېړې چلولو صنعت په وده کې زیاته مرسته وکړه او د فیوډالي ټولنې انقلابي عناصرو [بورژوازي] ته یې زیاته پراختیا ورکړه.

څرنګه چې فیوډالي صنعت نشو کولای چې د نویو بازارنو غوښتنه پوره کړي نو خپل ځای ئې مانوفاکتور[پانګوال صنعتي کار ځای؛ چې کارونه د دقیق وېش په اساس لا هم د لاسونو په مرسته تر سره کېږي.] ته پرېښود. مګر اړتیاوي او بازارونه لا پسې زیاتېدل آن تر دې چې مانوفاکتور هم دا غوښتنې نشوای پوره کولای. هغه ؤ د بخار ماشین د کشف سره مُډرن صنعت د مانوفاکتور ځای نیسي. د دې لوی صنعت سره د نړۍ بازار منځ ته راځي چې له دې بازار سره د بېړۍ او اورګاډي چلول او همدارنګه سوداګرۍ پراختیا وموندله. دغو ټولو شیانو بېرته د بورژوازي په قوي کولو کې مرسته وکړه. نو ویلی شو چې بورژوازي د تولید او لېږد د ډېرو بدلونونو د یوې اوږدې پراخې دورې په پایله کې منځ ته راغلي ده.

د بورژوازي د هرې دورې سره یو سیاسي پرمختګ تړلئ دی ـ بورژوازي پخپل پرمختګ کې مطلقه پاچائي په پارلماني او مشروطه باچائي او یا په جمهوري رژیم اړوي ـ او نوئ مُډرن دولتي قدرت تشکیلوي چې په دې نوي دولتي قدرت کې د بورژوازي طبقې استازي د دولت په ټولو څانګو کې د بورژوازي طبقې په ګټه د ټولنې

چارې اداره کوي. بورژوازي په تاريخ کې يو انقلابي رول لوبولی دی. صنعتي او تخنيکي پرمختګ د توليدي ځواکونو او سياسي شعور پراختيا د انقلابي خواصو څخه دي. د بورژوازي راتګ سره فيوډالي زېښناک چې د مذهب ـ فيوډوالي کلتور ـ قبيلوي اړيکو او د کورنۍ د ځانګړي فيوډالي جوړښت پوسيله پټ شوئ ؤ ـ ورک او پر ځای ئي بورژوازي جوت زېښناک يانې کاري ځواک او پانګې تر منځ اړيکي ټينګي شوې.

لنډه دا چې بورژوازي د فيوډالي ټولنې هغه شخصي درناوې چې مذهبي او خيالي اساس ئې درلود ـ له مينځه يووړ او پر ځای ئې آزاده سيالی او د پټ زېښناک پر ځای ئې بې شرمانه او وچ کلک زېښناک منځ ته راوست.

نو بورژوازي د خپل شتون د ساتنې او پرمختګ له پاره د فيوډالي ټولنې په توليدي وسايلو او توليدي مناسباتو کې يو انقلابي بدلون راوړ.

بورژوازي د خپل نوي توليدي طرز پواسطه د خپلو مالونو د خرڅولو لپاره برسېره پر ځائي ـ ملي ـ نړيوال بازار هم لاندي کړ او په عين حال کې نه يوازي مادي بلکې خپل ذهني توليدات هم په نړيواله کچه د خپل زېښناکي سيستم د ساتنې او دوام په موخه لېږدوي او په دې لړ کې د نړۍ نوی فيوډالي او بربري ټولنې د خپل حاکميت لاندي راولي.

په ټوله کې بورژوازي په هر ځای کې ځانته د خپله ځان په شان جهان جوړوي. همدا ډول يې کلي د ښارونو، وروسته پاتي ملکونه د پرمختللو ملکونو او شرق يې د غرب تابع وګرځول.

د صنعت او وګړو تراکم په ښار کې خصوصي مالکيت او د توليدي وسايلو تمرکز د کمو خلکو لاس ته ورځي؛ چې په نتيجه کې ځائي حکومتونه، ګمرک او قوانين له منځه درومي او پر ځای ئې يو حکومت او د هغه قوانين او ګمرک په ملي سويه منيځ ته راځي.

نسبت پخوانيو ټولو نسلونو ته بورژوازي د قابو سل کن طبقاتي حاکميت په اوږدو کې په خورا ګڼ شمېر توليدي قواوې منيځ ته راوستلې . طبيعي ځواکونه يې پخپل منګل کې ونيولې. ماشينري، په صنعت او کرهنه کې د کيميا استعمالول، د شړو ځمکو آبادول، د بخار د ماشين بېړۍ، اورګاډی، د بېړيو چلولو لپاره د سيندونو برابرول او د غسی نورو زيادو رواج ومونډ.

د مانوفاکتور او کرهنې په فيوډالي تشکل کې يانې د مالکيت فيوډالي مناسباتو د توليد د ځواکونو د پر مخ روان لوري سره نور سمون نه خوړ ـ ځکه چې توليدي ځواکونه تل د ودې[تکامل] په حال کې دي او توليدي مناسبات په هره تاريخي دوره کې د زېښناکګرې طبقې په ګټه يو نسبتي استقرار لري. پس دتوليدي د نويو مناسباتو قايمول يو جبر ؤ. چې په نتيجه کې د مالکيت دغه فيوډالي مناسبات بايد شنډ شي او پر ځای ئې د فيوډاليزم په غېږ کې زېږېدلي بورژوازي مناسبات ټينګ شي.

د بورژوازي د راتګ سره سم د بورژوا طبقې د سياسي او اقتصادي حاکميت اساسي اصل يانې آزده سيالی منځ ته راځي.

مورږ وينو چې د بورژوا طبقې حاکميت او د بورژوازي ټولنې تاريخ د توليدي ځواکونو او توليدي مناسباتو تر منځ جګړه ده. د مثال په توګه هغه اقتصادي کړکېچونه[سواداګري بحرانونه] چې د بورژوازي ټولنې کرکټر او خواص دي، د اضافي توليد پواسطه منځ ته راځي. نو ويلای شو چې دا کړکېچ [بحران] د توليدي ځواکونو او توليدي مناسباتو نه سمون او تضاد جوتوي.

دا کړکېچ د بورژوازي مالکيت له خطره سره مخامخوي او هم بورژوازي مناسبات د توليدي ځواکونو د زياتي ودې او پراختيا مخ نيوئ کوي. نو له دې کبله بورژوازي مجبوره ده چې له يوې خوا يوه اندازه توليدي ځواکونه له منځه يوسي او له بلی خوا د خپل وحشي طبيعت په اساس د نورو هيوادو بازارونه لاندي او د زړو بازارونو په بېرحمانه زبېښاک پيل وکړي.

بورژوازي هغه وسله چې د هغې پواسطه ئې فيوډاليزم له منځه وړی ؤ اوس همدا وسله د دوی پر ضد استعمالېږي. بورژوازي نه يوائې د خپلو ځانو له منځه وړلو د پاره ئې وسلې جوړې کړي ـ بلکې د دې وسلې د استعمال او د دوی له منځه وړول لپاره ئې هغ کسان وزېږول چې ياده وسله را اخلي او بورژوازي پرې له منځه وړي ـ چې عبارت دي له عصري پرولتاريا څخه!

په هغه اندازه چې بورژوازي ياني پانګه پراختيا مومې په هماغه اندازه پرولتاريا[مُډرنه کارګره طبقه] وده کوي.

دوی تر هغه وخته ژوند کولی شي چې کار مومې او کار تر هغه وخته موندلی شي چې پانګوال پانګي ته ګټه رسوي.

کارګران د خپل ژوند د دوام د پاره اړ دي چې د خپل کاري ځواک خرڅ کړي نو په دې توګه د دوی کاري ځواک[مادي او مانوي انرژي] هم لکه د نورو توکو په شان يو توکئ دئ چې د سيالئ او بازار قوانين پرې تطبيقېږي.

د ماشين د استعمال د پراختيا او د کار د وېش سره سم د کار آزادي او خوند له منځه ځي. کاګر د ماشين سره تړل کېږي او ده ته هغه ساده ستومانوونکئ کار رسپارل کېږي چې په ډېري اسانئ سره زده شي او په وړاندي ورته دومره څه [اجوره] ورکول کېږي چې يوازي د ده د ژوند د پايښت او د نسل د دوام لپاره اړين وي.

د ټولو توکو همدارنګه د کاري ځواک بيه د هغې د توليدي لګښتونو سره برابره ده. په هره اندازه چې کار بې خونده کېږي په هماغه اندازه اجوره کمېږي. او تر دې هم زيات په هغه نسبت چې د ماشين استعمال او د کار وېش پراختيا مومې په هماغه اندازه د کار دروندوالی زياتېږي چې دا يا د کار د ساعتونو د زياتوالي په شکل يا په يوه ټاکلي وخت کې د لازمي اندازې د کار زياتول او يا د ماشين د حرکت د چټکوالي او داسي نورو پوسيله کېږي.

مُډرن صنعت لاسی دستګاوي په لويو کارخانو او دستګاؤ بدلي کړي. د دستګاؤ خاوندان د لويو صنعتي کارخانو د خاوندانو پحيث ټولنيز ډګر ته راووتل. د کارګرو پرګنې ئې په فابريکو کې سره راغونډ او د سرتېرو په شان ئې درجه بندي کړل. دوی نه يوازي د پانګوالي طبقې او د هغو د دولت غلامان دي بلکې هره ورځ او هر ساعت د غلامونو پحيث ماشين پوري تړلي او تل د فابريکو د کتونکو او مخصوصاً د بورژوا تر بېرحمانه تظارت لاندي نيول شوي دي.

په هره اندازه چې پانګوال د خپلو ګټو د زياتوالي لپاره زبېښاک چټک او سخت کړي په هماغه اندازه د کارګرو کرکه او غضب راپاروي. هر څومره چې صنعت پر مخ ځي په هماغه اندازه د سړيو کار ښځو او کوچنيانو ته ورپه غاړه کېږي. په کپيټاليزم کې د عمر او جنس فرق د کارګري طبقي په منځ کې خپل ټولنيز اعتبار له لاسه ورکړ. کارګره طبقه د توليد په اوزارو بدل د جنس او عمر د اختلاف له امله بېل بېل نرخونه لري. کله چې کارګر د فابرېکې د خاوند څخه د کار مزدوري نغده واخلي او د څو ساعتو لپاره د هغه د زبېښاک څخه خلاص شي نو بيا پر هغه باندي د کور د خاوند او سود خور زبېښاک پيلېږي.

منځنۍ قشر[وړه بورژواز، منځني طبقه، د کوچنيو فابريکو خاوندان،سوداګران لاسي کارګران او بزګران] ټول د يادي سيالۍ پواسطه او يا دا چې د دوی مهارت د توليد د نوي ډول په نتيجه کې اعتبار وبايلي ـ خپل ټولنيز موقف هم له لاسه ورکوي او د پرولتاريا په طبقه ورګډېږي. په دې توګه پرولتاريا د ټولني د ټولو طبقو څخه منځ ته راغلي ده.

پرولتاريا د ودې[تکامل] بېلي بېلي مرحلې تېروي د پرولتاريا د وجود سره سم د بورژوازي پر ضد د هغه مبارزه پيلېږي. په لومړنۍ مرحله کې دا مبارزه انفرادي شکل لري وروسته د يوې فابريکې کارګران او بيا په يوه سيمه کې د کار د يوې څانګې کارګران په ګډه د بېلو بېلو هغو پانګوالو په ضد مبارزه کوي د کومو له خوا چې دوی مستقيماً زبېښاکېږي. دوی نه يوازي د بوررژوازي د توليدي مناسباتو پر ضد مبارزه کوي بلکې د بوررژواز ي د توليدي اوزارو د منځه وړلو په موخه هم اقدام کوي ـ ماشيونه ماتوي ـ فابريکو ته اور ورته کوي ـ غواړي چې د منځنۍ پېړۍ د کارګر له منځه تللی دريځ بېرته راژوندی کړي. په دې مرحله کې کارګر يوه پرګنه[توده] جوړوي چې په هر ګوټ او کونج کې تيت او د سيالۍ په نتيجه کې د بې اتفاقۍ په رنځ اخته کېږي. تر اوسه پوری د کارګرو د تودې يووالی د دوی د يووالي ميوه نه ده بلکې بورژوازي د خپلو مقصدونو د سرته رسولو د پاره ټول پرولتر په حرکت راولي.

اوس پرولتاريا د خپل دښمن [بورژوازي] سره جګړه نه کوي بلکې د خپل دښمن د دښمن ياني تر اوسه پورې پاته شوي مطلقه سلطنت، د ځمکو خاوندان، غير صنعتي بورژوازي او کوچنۍ بورژوزي پر ضد مبارزه کوي. په دې توګه ټول تاريخي حرکت د بورژوازي په لاس کې راغونډ او هر بريالیتوب د بورژوازي بريالیتوب ګڼل کېږي.

د صنايعو د پرمختګ په نتيجه کې نه يوازې د پرولتاريا شمېر ډېرېږي بلکې پرولتاريا د لويو پرګنو[تودو] په شکل سره راغونډېږي ـ د دوی ځواک ډېرېږي او دا ډېروالی پخپله دوی حس کوي. ماشين د کار زيات اختلاف له منځه وړي د کارګرانو د ژوندانه شرايط سره نږدې کېږي ـ په هر ځای کې ئې مزدوري تقريباً سره مساوي او ټيټې سويې ته نزول کوي. د پانګوالو تر منځ سيالی د کارګرانو اجوره متزلزله کوي. د ماشين دوامداره اصلاح او تکامل د دوی د ژوندانه ډاډ [تضمين] ويجاړوي.

د کارګر او د پانګوال تر منځ انفرادي ټکرونه د دوی د طبقو تر منځ د ټکر شکل نيسي. په دې توګه کارګران پخپلو منځو کې د بورژوازي پر ضد ائتلاف کوي. حتی دائمي ډلې جوړوي. تر څو د خپل کار د مزدوري څخه دفاع وکړي. او د هر احتمالي ټکر/تصادم په وخت کې د ژوندانه وسايل راټول کړي. کارګران کله کله بريالي کېږي، خو دا بريالیتوب لنډمهاله دی! د کارګرانو ريښتيني نتيجه، فوري بريا نه! بلکې د هغوی د يووالي په ډېرښت کې ده. ورځ تر بلې ډېرېدونکې ارتباطي اوزار چې د لويو صنايعو پوسيله توليدېږي او د ګڼو سيمو کارګرانو تر منځ اړيکي پيدا کوي، د ياد يووالي په رامنځته کېدو کې مرسته کوي.

د پرولتاريا تشکل د يوې طبقې او بيا د يوه سياسي ګوند پحيث په لومړيو مراحلو کې د دوی د خپل منځي سيالی پوسيله هره ګړۍ ورانېږي او بېرته ودانېږي او هر ځل تر پخوا کلکېږي او ځواکمنېږي، او خپلو ګټو ته ته قانوني شکل ورکوي ځکه چې پرولتاريا د بورژوازي په منځ کې له شته سيالی [موجود رقابت] څخه ګټه اخلي [ مثلاً لس ساعته کار قانون په انګلستان کې ] د زړې ټولنې ټکرې (تصادمونه) د پرولتاريا په پرمختګ کې يو مثبت اغېز غورځوي:- ځکه چې بورژوازي تل د يوه دايمي جنګ سره مخ ده [ لومړی د ارستوکراتي ـ وروسته پخپله د بورژوا طبقې د هغو ډلو په مقابل کې چې د صنعت په پرمختګ کې خنډ واقع کېږي او بالاخره د خارجي بورژوزاي په وړاندې ] په يوه دغسې جبري حالت يا هم جبر کې بورژوازي د پرولتاريا مرستې ته سترګې غړوي.

په دې جنګ کې د پرولتاريا روزنه په بورژوازي باندې يو جبري حکم دی چې په دې ترتيب بورژوازي د خپل خان د حلالو چاړه پخپل لاس تېره کوي...

له بلې خوانه د صنعت د پرختګ سره سم د حاکمې طبقې يوه لويه برخه د کارګرو طبقې ته راټيټېږي چې د پرولتاريا په روزنه کې مرسته کوي. د هغو ټولو له جملې څخه چې د بورژوازي په وړاندې حقيقتاً انقلابي ګام اخيستی شي هغه د پرولتاريا طبقه ده ځکه چې نور ټول طبقات د لوی صنعت په نتيجه کې شل کېږي[ورستېږي] او ورکېږي ـ خو پرولتاريا طبقه زياتېږي ـ لوی صنعت نور طبقات سولوي ـ خوروي يې. خو پرولتاريا زېږوي ياني پرولتاريا د هغه محصول ده.

صنعت نور طبقات سولوي ـ واړه صنعتګران ـ واړه سوداګران ـ کسب ګر او بزګران د بورژوازي د نسکورولو هڅه کوي تر څو چې د منځنيو طبقاتو پحيث خپل موجوديت د زوال څخه وساتي. د دوی ميل انقلابي نه بلکې ارتجاعي دی ځکه دوی د خپل موجوديت ساتنه په دې کې ويني چې د تاريخ څرخ بېرته

راوګرځوي. دوی هغه وخت انقلابي کېږي کله چې خپله منځنۍ طبقه بايلي او د پرولتاريا طبقې ته راټيټ شي.
لومپن پرولتاريا که څه هم کله کله په پرولتري انقلاب کې راداخلېږي مګر د دوی د ژوند د شرايطو په اساس کيدای شي چې مرتجع کارو ته ملا وتړي...
پرولتاريا بې مالکيته او د ربړ ژوند [ له رنځه ډک ژوند ] تېروي؛ هر چېرته د پانګې د ژغ تر اسارت لاندي ژوند کوي. قانون، اخلاق او مذهب دا ټول د پرولتاريا لپاره د بورژوازي خرافات دي ـ هغه خرافات چې تر شا يې د حاکمې طبقې ګټې نغښتي دي...
هره طبقه چې نوئ واک [سياسي حاکميت] تر لاسه کړي نو د خپل پايښت او دوام لپاره بايد ټوله ټولنه دخپل د ډول [طرز] تابع وګرځوي. مګر پرولتاريا هغه وخت ټولنيز توليدي ځواکونه لاس ته راوړئ شي کله چې دتوليد او مالکيت اوسنئ ډول رانسکور او ړنګ کړي. پرولتاريا د بيمې لپاره هيڅ شئ نلري نو بايد د ټولو خصوصي بيمو د منځه وړلو کار وکړي.
تر اوسه پورې ټولو حرکتونو لږکيو[اقليت]بڼه لرله ياني د لږکيو په ګټه تمام شوي دي خو کارګري غورځنګ د ډېريو[اکثريت] خوځښت او سېلاب دی. ځکه چې دا سېلاب د ډېرو بې شمېرو خلکو ګټي د ځان سره راوړي.
پرولتاريا؛ د دې ټولنې ټيټه طبقه، تر هغه وخته راپورته کېدای نشي ـ تر څو چې د دې ټولنې رسمي مخ بِنا[روبِنا] وانه لوزوي. د بورژوازي پر ضد د پرولتاريا مبارزه که څه هم د مضمون په لحاظ نړيواله ده مګر دشکل له مخې ملي او د هر هيواد د کارګران لومړئ بايد د خپل هيواد بورژوازي ته ماته ورکړي.
تر اوسه پورې مو د پرولتاريا د پراختيا په لړ کې هغه داخلي جنګ چې په دې ټولنه کې لږ او ډېر، پټ او جوت دی ـ تر هغې نکتې پورې وښود تر کومه چې دغه پټ داخلي جنګ په يوه ښکاره انقلاب بدلېږي؛ په کومه کې چې پرولتاريا بورژوازي په زوره سره نسکوروي او خپله واکمني ثابتوي.
تر دې دمه ټولې ټولنې طبقاتي دي! د يوې طبقې د محکوم ساتلو لپاره بايد د هغه دپاره داسي شرايط وزېږول شي په کومو کې چې دغه محکومه طبقه د بدبختۍ او ربړ شپې سبا کولی شي. اما مُډرن کارګران د صنعت د مخ ته تلونکي انکشاف سره سم ګام نشي پورته کولی بکلې د دې پر ځای په بدبخت او کړاو نه ډک ژوند کې ډوبېږي. دوی ورځ تر بلې مُسکين کېږي. په دغسي شرايطو کې څرګنده ده چې د بورژوازي حاکميت نور نشي زغمل کيدای.
حاکمه طبقه يوازې د خپلې پانګې په زياتوالي پسې هڅه کوي او د پانګې زياتول يوازي او يوازي د پرولتاريا او مزدوري کار د شرايطو په موجوديت کې امکان لري. د صنعت د پراختيا سره موازي د کارګرانو اتحاديه جوړېږي. د دې لوی صنعت د پرمختګ په اساس ورځ په ورځ بورژوازي د خپل ځان د تباهي لپاره ژورې کندی کاږي چې په نتيجه کې د بورژوازي زوال او پرولتاريا بريالیتوب په عين وخت کې صورت مومی.

# دويم څپرکی

## پرولتاريا او کمونيستان

-----------------------------------------

د پرولتاريا او کمونيستانو تر منځ څه اړيکه موجوده ده؟ [په ټوله کې د کمونيستانو مناسبات د پرولتاريا سره څه ډول دي؟] د کمونيستانو اړيکه د پرولتاريا سره په دې کې ځرګندېږي چې دوی پرولتاريا سره مشترکې ګټې لري.[هغوی د پرولتارياؤ څخه بېلې ګټې نلري.] کمونيستان د نورو پرولتري ګوندونو په وړاندي کوم ځانګړئ ګوند نه دی! بلکې کمونيستان د پرولتاريا د نورو ګوندونو په شان د دوی يو ګوند دی البته توپير ئې د نورو ګوندونو سره په دوه ډوله کېږي:

اول دا چې کمونيستان د پرولتاريا په مختلفو مبارزو کې چې په ملي کچه د ټولو پرولتاريا مشترکې ګټې چې د نور ملت څخه بېلي وي، اعتبار ورکوي. دويم دا چې دوی د پرولتاريا د مبارزو په مختلفو مرحلو کې د پرولتاريا عمده ګټې په نظر کې نيسي. [نو په دې اساس کمونيستان په عملي ساحه کې د ټولو هيوادونو د کارګري ګوندونو غوڅه او مخکښه برخه جوړوي او نظر د پرولتاريا نورو پرګنو[تودو] ته د پرولتري غورځنګ شرايط، جريان او راتلونکي نتايج ښه ارزولای شي.]

د کمونيستانو او نورو پرولتري ګوندونو مشترکه موخه دا ده چې: پرولتاريا د يوې طبقې پحيث سرا راټول ـ د بورژوازي د حاکميت سقوط اماده ـ او د سياسي قدرت واګي پرولتاريا ته ولېږدوي.

د کمونيستانو نظريات کومی ايډيا يا پرنسيبونه نه دي چې د جهان کوم اصلاح کوونکی را پيدا کړي وي؛ بلکې د يوې حقيقي طبقاتي مبارزې انعکاس دی. [د کمونيستانو تيوريک حکمونه د نړئ د کوم مصلح په ځانګړو کشفی يا جوړ شويو اصولو ولاړ نه دي؛ بلکې د شته واقعي طبقاتي مبارزې بيان دی ياني هغه تاريخي طبقاتي غورځنګ دئ چې زموږ د سترګو وړاندي د عمل جامه اغوندي.]

[د مالکيت په برخه کې د موجوده مناسباتو ړنګولو چارې يوزاې په کمونيزم پورې تړاو نلري ـ ځکه چې مالکيت پورې تړلي هر ډول مناسبات د تاريخ په اوږدو کې پرلپسې بدل شوي دي. مثلاُ د فرانسي انقلاب فيوډالي مالکيت ړنګ او پر ځای ئې بورژوازي مالکيت ټينګ کړ.]

د کمونیستانو غوره صفت دا دی چې دوی مالکیت په کُلي ډول له منځه نه وړي بلکې د بورژوا مالکیت له منځه وړي. د بورژوازي خصوصي مالکیت د ډېرو خلکو په زیښاک ولاړ دی. کمونیستان د خصوصي مالکیت پر ضد مبارزه کوي نه دي شخصي مالکیت پر وړاندي![د خصوصي مالکیت او شخصي مالکیت تر منځ توپیر په دې کې دی چې: خصوصي مالکیت هغه ته وائې چې نور انسان پرې استثمار شي یاني د ګټي ـ اضافي ارزښت ـ د لاسته راوړلو سرچینه وي خو بالمقابل بیا شخصي مالکیت د خپل ضرورت د رفع کولو وسیله ګڼل کېږي نه دي زیښاک!]

ځیني کسان کمونیستان په دې تورنوي چې دوی په شخصي ډول او د کار پوسیله ګټل شوئ مالکیت له منځه وړي. ایا په شخي ډول او پخپل کار ګټل شوی مالکیت هغه کوچنی بورژوا او کوچنی بزګري مالکیت دی چې د بورژوا د مالکیت د مخه موجود ؤ؟ او که مطلب د دغه رنګه خلکو د مُډرن بورژوا خصوصي مالکیت څخه دی؟

[موږ کمونیستان په دې تورنوي چې ولي د کسانو هغه مالکیت چې د خپل کار او زیار پوسیله یې لاسته راوړئ او د هر ډول فردي فعالیت، استقلال او آزادئ تضمینوونکی دی، ړنګوو. هغه مالکیت چې خپله یې برابر کړئ، خپله یې تر لاسه کړئ او د خپل کار ثمره یې ده! کیدای شي تاسو د بورژوازی مالکیت وړاندي د وړې بورژوا او وړو بزګرانو(وړو مالکینو) مالکیت په اړه خبري کوئ؟ موږ د دې ډول مالکیت ړنګولو ته هیڅ اړتیا نلرو ځکه چې خپله د صنایعو پراختیا او وده هغه ړنګوي او هر ورځ یې د ړنګولو او ورکولو په حال کې ده.] پوښتنه باید وشي چې ایا کارګر دکار مزدوري [اجوره] د کارګر لپاره کوم مالکیت شوني کوي؟ ښکاره ده چې د کارګر کار پانګه[هغه مالکیت چې خپله د مزدورئ کار د زیښاک نتیجه او د هغې زېږنده ده.] تولیدوي چې ده پوري نه بلکې پانګوال پورې اړه لري.[پانګه کارګر تولیدوي خو خاوند یې بورژوا ګرځي نه کارګر!] پانګه ټولنیز محصول دی نه فردي! یاني د ګنو کسانو د ګډ کار زېږنده ده. نو ویلای شو چې پانګه ټولنیز ځواک دی نه فردي!

که چېرې پانګه یو داسې شکل غوره کړي چې د ټولنې په تولو غړو پورې اړه شي یاني د ټولنې د ټولو غړو مالکیت وګرځي نو دا د دې مانا نلري چې خصوصي مالکیت په ټولنیز مالکیت واوښت بکلې ویلای شو چې د مالکیت ټولنیز کرکټر بدل شوی یاني خپل طبقاتي خاصیت ئې بایللی دی.

اوس به راشو د مزدورۍ کار ته!

د کار منځنۍ اجوره د خوراکي توکو هغه کوچنی برخه ده کوم چې  کارګر د کارګر پحیث ژوندی ساتي. کارګر ته د کارګر پحیث پاته کېدلو او سا اخیستلو  لپاره د اجورې هغه کوچنی حد ورکول کېږي ـ هغه څه چې کارګر په یوه[پانګوالۍ] کاپیتالیستي ټولنه کې د خپلو مټو د زور په وړاندي د قیمت په نامه تر لاسه کوي د ده د ژوند د بقا  لپاره بسوالی کوي او بس!

[کمونیستان نه غواړي چې شخصي مالکیت له منځه یوسي بلکې غواړي چې هغه خارجي قوه چې د کارګرو د بربادۍ سبب ګرځي یاني د خصوصي مالکیت هغه نېستمن کرکټر له منځه یوسي چې د پانګوالو د پانګې د زیاتوالی په فرض په کار اچول شوی دی. په بورژوازي ټولنه کې ژوندئ کار د تراکم شوي کار د ډېرښت وسیله ده.[د تراکم شوي کار څخه موخه پانګه ده.] خو [په کمونیستي ټولنه کې بیا برعکس! تراکم شوئ کار د کارګرانو د ژوند د پراختیا او لا غناء په موخه د یوې وسیلې پحیث کارول کېږي.] په دې ډول په بورژوازي ټولنه کې تېر په اوس حکومت کوي خو په کمونیستي ټولنه کې اوس په تېر حکومت کوي. په بورژوازي ټولنه کې پانګه استقلالیت او شخصیت لري خو یو زیارکښ د استقلالیت او شخصیت دواړو څخه محرومه دئ.] یا هم په بورژوازي ټولنو فعال کې انسانان غیر مستقل خو د دوی د لاس محصول یاني پانګه خصوصي او مستقله ده. لږ د ډېرو باداران دي... ښکاره ده چې کمونیستان د پانګې او کار تر منځ دغه ناوړه او ناجایزه مناسبات چې بورژوازي ئې د شخصیت او آزادۍ لغوه بولي ـ له منځه وړي. روغه ده چې دا مبارزه د بورژوازي شخصیت او استقلال پر ضد او د مالکیت دغسی مناسبات ویجاړوي.

هو! د مالکیت په بورژوازي مناسباتو کې ازادي د آزاد تجارت ـ ازاد رانیولو او خرڅولو مانا لري ـ یاني د تولید په بورژوا مناسباتو کې د بورژوازي د پایښت لپاره آزادي. د بورژوازي د آزاد تجارت ناره یوزاې د منځنیو پېړیو د غلام شویو ښاریانو د پاره مانا او مفهوم درلود مګر نه د کمونیستانو د پاره چې بورژوازي مناسبات له منځه وړي.

تاسو وېرېږئ چې موږ خصوصي مالکیت لغوه کوو؛ خو په اوسنۍ ټولنه کې په لسو کې نهو تنو خپل مالکیت له لاسه ورکړئ دی. د مالکیت اوسنی شکل[خصوصي مالکیت] په دې شرط موجود دی چې په لسو کې نهه ترې محرومه دي. سره له دې هم تاسو په موږ قهر جن یاست او په دې مو ملامتوئ چې موږ د مالکیت

داسی شکل[خصوصي شکل] له منځه وړو چې شتون ئې د ټولنې د ډېریو یا هم مطلق اکثریت په محرومیت کې شوني دئ. خو موږ دا مالکیت په ډېر ویاړ سره له منځه وړو، تر څو د ټولنې لوی اکثریت له هر ډول محرومیت څخه خلاصون ومومې.

له بلې خوا تاسی وایاست چې د خصوصي مالکیت له منځه تګ سره شخصیت هم له منځه ځي که تاسی د شخصیت له منځه وړلو څخه مقصد بورژوازي شخصیت وي نو دا سمه ده. ځکه د بورژوازي مالکیت د منځه تللو سره بورژوازي شخصیت هم له منځه ځي. کمونیزم د ټولنیزو محصولاتو څپلول یا تصاحب له هیچا هم نه اخلي بلکې هغه امکان چې د دې محصولاتو په څپلولو سره د نورو د اسارت[غلامولو] لامل ګرځي، د منځه وړي. تاسو وائی چې د خصوصي مالکیت له منځه وړلو سره د کار شوق او علاقه له منځه ځي او پر ځای ئې لټي قایمېږي. که په ریښتیا داسي یو څه وي نو باید پانګواله ټولنه ډېره پخوا د تنبلي له امله ویجاړه شوي وای ځکه هغه څوک چې کار پکې کوي هیڅ نلري او هغه څوک چې کار نکوي هر څه لري. دا ډول ټولې وسوسې او اعتراضونه څرګندوي چې د پانګې له منځه تګ سره به د مزدورئ کار هم خپله کېږه بار کړي.

ټول هغه تهمتونه چې د کمونیستي طرز پر مادي تولید باندي لګېږي د هغه فکري تولید او مالکیت ته هم متوجه دي. لکه څنګه چې د بورژوا لپاره د طبقاتي مالکیت لغوه کېدل د تولید لغوه کېده بریښي – [په همدې ډول د طبقاتي فرهنګ له منځه وړل د هر ډول فرهنګ د له منځه وړلو په مانا ګڼي. هغه فرهنګ چې د ورکېدو له امله بورژوازي ډېر خواشینی کېږئ هغه د انسانانو ډېری پرګنې په ماشین اړوي.]

ستاسو مغرضانه تصورات تاسو دې ته هڅوي تر څو خپل مالکیتي نظام او تولیدي مناسباتو ته یاني هغو مناسباتو ته چې د تاریخ په اوږدو کې له منځه ځي د عقل او طبعیت د ابدي قوانینو حیثیت ورکړئ.[دا مانا چې تاسو خپل اقتصادي تاریخي فورم ته د تلپاتي تاریخي دورې حیثیت ورکوئ.] هو تاسو په دې برخه کې ستاسو څخه پخوا تېر شوو طبقاتو سره چې په واک کې ول او اوس له منځه تللي؛ هم نظره یاست.

مګر تاسی هغه شیان چې د پخواني مالکیت په هکله ئې منئ – هغه څه چې د پخوا وختونو او فیوډالي مالکیت په هکله ئې منئ او اعتراف پرې کوئ – هغه بیا د بورژوازي مالکیت په اړه نشئ منلای.[په دې مانا

چې بورژوازي د مريتوب او فيوډالي مالکيت له منځه تګ او له منځه وړل تايدوي خو خپله بيا د بورژوازي مالکيت له منځه تلو باندي سترګي پټوي.]

د کورنۍ ړنګول! حتی افراطي راډيکال هم د کمونيستانو په دې بد نيت په قهر دي.

اوسنۍ بورژوا کورنۍ په کوم بنسټ ولاړه ده؟ د پانګې او خصوصي ګټې په بنسټ.[په پانګه او خصوصي ګټې تکيه کوي.] چې په کامل صورت سره يوازي د بورژوازي لپاره شتون لري او دا بشپړېدل د پرولتري کورنۍ په جبراً پاشلو او عمومي فاحشه توب کې رامنځته کېږي.[ پښتو متل بايد دلته ذکر شي] بورژوازي کورنۍ د دې تکميلوونکې په له منځه تګ سره په طبيعي ډول له منځه ځې او دا دواړه بيا د پانګې له زوال سره زوال مومې.[ د بورژوازي تکميلوونکې د کارګري کورنۍ پاشل او عمومي فاحشه توب ده! او کله چې پانګه له منځه لاړه شي دا دواړه ياني پاشل او فاحشه توب هم د منځه ځي چې سم دم له دې سره بورژوازي کورنۍ هم نابودېږي...په دې مانا چې اول بايد پانګه له منځه يووړل شي...له هغه وروسته د کورنۍ دواړه شکلونه خود بخوده له منځه ځي.]

په موږ اعتراض کوئ چې د مور او پلار پواسطه د کوچنيانو زېښاک له منځه وړو. موږ په دې جرم اعتراف کوو.

کله چې موږ د کورنۍ روزنې په ځای ټولنيزه روزنه راوړو نو تاسي وايٲست چې موږ مقدسي اړيکي له منځه وړو. نو آيا ټولنه ستاسو روزنه نه ټاکی؟ آيا ټولنيزي اړيکي د روزنې تعينوونکې نه دي؟ آيا ټولنه په مستقيم يا غير مستقيم ډول سره [ د ښوونځي پوسيله ] په روزنه کې مداخله نه کوي؟

په روزنه کې د ټولنې اغېز د کمونيستانو ابتکار نه دی بلکې دوی يوازي د هغوی کرکټر[خصلت، صفت، شکل او نورو] ته بدلون ورکوي او هغه د حاکمې طبقې د نفوذ او تاثير څخه ژغوري او خلاصوي. هر څومره چې د لوی صنعت پرمختګ سره د پرولتري کورنيو اړيکي پاشل کېږي او کوچنيان ئې د سوداګرئ او کار په ساده اوزارو اوړي په هماغه اندازه د کورنۍ، روزنې او د والدينو او اولادونو تر منځ د خوږو اړيکو اړوند د بورژوازي پوچي خبري بې خونده او بې ارزښته کېږي.

بورژوازي يو ځای چيغي وهي؛ چې: تاسو کمونيستان د ښځو شراکت غواړئ!

بورژوا د کمونیستانو څخه اوري چې تولیدي اوزار باید سره ګډ وي. ]څرنګه چې بورژوا خپلې ښځې ته یوازېد تولید د یوې آلې په سرتګه ګوري نو د دې نه دا پایله اخلی چې د تولیدي اوزارو اشتراک به د ښځو اشتراک خامخا منځ ته راولی. د بورژوازي په خیال کې دا مسله هم نه ګرځي چې د ښځې موقف د یوې ساده تولیدي آلې پحیث باید له منځه لاړ شي.

د بورژوازي دا اخلاقي تشویش موږ ته خندا راولی کله چې دوی وایي چې کمونیستان د ښځو رسمي اشتراک غواړي. کمونستانو ته د دې حاجت چې د ښځو اشتراک منځ ته راولي – ځکه نسته چې دې اشتراک تل شتون درلود.

سره د دې چې د پرولتاریا لونه او ښځې د بورژوا په اختیار کې دي او رسمي فاحیشه ګري هم شتون لري بیا هم بورژوا لپاره یو حوسانه خوند دا ده چې د نورو ښځې بې لاري کړي. په حقیقت کې د بورژوازي ټولنې واده د واده شویو ښځو اشتراک دی. دوی موږ یوازې په دې تورنوي چې کمونیستان – د بورژوازي په ګمان – د پټ او ریاکاره اشتراک پر ځای د ښځو یو ښکاره او رسمي اشتراک رامنځ ته کوي. مګر دا روښانه ده چې د اوسنیو تولیدي مناسباتو د ورکېدو سره د دې څخه زیږېدلي د ښځو اشتراک یاني رسمي او غیر رسمي کچني توب له منځه ځي. یو بل تور چې په کمونیستانو کېږي دا دی چې دوی[کمونیستان] وطن او ملیت لغوه کوي...

کارګران وطن نلري – سړئ نشې کولای چې له هغوی نه هغه څه چې دوی یې نلري ترې واخلي – . پرولتاریا تر هر څه د مخه باید سیاسي واک تر لاسه کړي او رهبري کوونکې طبقې پحیث ډګر ته راووزي او خپله ملت شي چې تر دې وخته پورې یې مبارزه ملي ده البته نه د بورژوازي د مفهوم له مخې...

د بورژوازي وده – آزاد تجارت – د صنعتي تولید یو رنګوالي او د هغو سره د شرایطو سمون ملي فاصلې او د ولسونو تر منځ تضادونه له منځه وړي. کله چې پرولتاریا حاکمیت ته ورسېږي د دې شیونو له منځه وړلو لپاره لا زیات کار کوي. د پرولتاریا د ازادي لپاره د دوی ګډ عمل او یا کم تر کمه د متمدنو ملکونو د پرولتاریاوو ګډ عمل بنسټیز شرط دی. په کومه اندازه چې د یوه انسان زبېښاک د بل انسان پوسیله له منځه ځي په همغه اندازه د یوه ملت استثمار د بل پوسیله هم له منځه ځي . په همدې ډول په ملتونو کې د

داخلي تضادونو و درکېدو سره د دې ملتونو تر منځ دښمني هم ورکېږي... ټول هغه تورونه چې د دين، فلسفې او ايډيولوژۍ له اړخه کمونيزم ته متوجه کېږي، ډېر ژور بحث ته اړتيا نلري...

ځکه – ايا د دې حقيقت څېړنه ډېر ژور فکر غواړي چې د انسانانو نړۍ ليد، مفاهيم او تصورات – لنډه دا چې د دوی شعور د هر هغه بدلون سره چې د دوی د ژوند په شرايطو – ټولنيزو مناسباتو او د ژوندانه په ټولنيزو اړيکو کې راځي، بدلون مومي؟ ايا د ايدو تاريخ دا نه ثبوتوي چې ذهني توليد د مادي توليد سره سم بدلېږي؟

[آيا د دې حقيقت موندلو لپاره چې ګويا د انسانانو د ژوند د شرايطو، ټولنيزو مناسباتو او هستی په بدلون سره د هغوی تصورات، نظريات، ياني شعور هم بدلون مومي، ډېري زيرکۍ او ژور فکر کولو ته اړتيا شته؟] [ د عقايدو تاريخ د دې حقيقت ماسوا بل څه اثباتوي چې د مانوي ارزښتونو توليد د مادي ارزښتونو له توليد سره بدلون مومي.]

واکمن عقايد يا هم ايډيولوژۍ هر وخت د واکمنې طبقې عقايد او ايډيولوژۍ ده. څوک چې د داسو ايدو اړوند خبري کوي چې د هغو پواسطه ټولنه انقلابي کېږي[ په ټولنه کې انقلابي اغيزه ښندي ] دا حقيقت څرګندوي چې د زړې ټولنې په منځ کې نوي عناصر پيدا شوی او د ژوند د زړو مناسباتو د ورکېدو سره زړې ايدي[زاړه افکار/عقايد] هم له منځه ځي... کله چې زړه نړۍ زوال ته نږدې وه مسيحي دين په زړو اديانو باندي بريالی شو او کله چې په اتلسمه پېړۍ کې عيسوي ايدی خپل ځای نويو فکرونو ته پرېښود نو زړه فيوډالي ټولنه د ځنګندن په وخت کې د بورژوازي سره چې په هغه وخت کې انقلابي ؤ، وروستني جنګ ته راووتله. د نويو ايدو زېرېدل چې په اصل کې يې د عقيدی او دين ازادی غوښتله دا مانا يې درلوده چې د ازادي سيالۍ ايدې د پوهې په ډګر کې واک ته ورسوي...[ د پوهې په برخه کې د مذهب او عقيدی ازادي يوازې د ازادې سيالۍ د سلطې ښکارندوينه وه.]

موږ ته به ووايي چې: ديني، اخلاقي، فلسفي، سياسي او حقوقي ايدې د تاريخي ودې په لړ کې نوي بڼې غوره کړي. مګر دين، اخلاقو، فلسفي، سياست او حقوقو په دې پرلپسې بدلون کې تل شون لاره، برسېره پر دې تلپاتي حقايق لکه ازادي، عدالت او نور شتون لري چې د ټولنيزي ودې د ټولو مرحلو لپاره عموميت لري. [په ټولو مرحلو کې يې شتون لاره/په ټولو مرحلو کې مشترک شئ ؤ.] خو کمونيزم بيا دا تلپاتي/ابدي حقايق لغوه کوي، دين او اخلاقو ته بې له دې چې نوی شکل ورکړي له منځه وړي – نو په دې اساس دتاريخ له ټولی پخوانۍ لړۍ سره په تضاد کې ده...

د دې تورونو لنډيز څه دی؟ تر اوسه پورې د ټولو ټولنو تاريخ پر طبقاتي تضادونو باندي ولاړ دی او دې تضادونو د مختلفو دورو سره سم مختلف شکلونه غوره کړي دي...خو دې تضادونو چې هره بڼه يې لرله د ټولنې د يوې برخې زبېښاک د بلې پوسيله، د ټولو مخکينيو دورو تر منځ يومشترک حقيقت دی. [هغه روڼ واقعيت دی چې د تېرو ټولو دورو لپاره عموميت لري] نو دا د حيرانتيا وړ خبره نه ده چې د ټولو تېرو دورو ټولنيز شعور سره له ټولو بدلونونو او مختلفو بڼو يې په ټاکلو عمومي شکلونو کې تر سره شوي ،چې له منځه تګ يا ړنګېدل يې يوازې د طبقاتي تضاد له منځه تلو او ړنګېدو سره ترسره کېږي...

کمونيستي انقلاب په بنسټيزه توګه خپلې اړيکي د مالکيت له زړو مناسباتو سره شلوي.[کمونيستي انقلاب د مالکيت له زړو مناسباتو سره غوڅ پرېکون دی.] نو دا د تعجب وړ نه دی چې دا انقلاب د ودې په جريان کې خپل ارتباط د زړو ايدو او نظرياتو سره هم په کلکه قطع کړي.[نو دا د حيرانيتا وړ نه ده، چې ياد انقلاب د ودې په جريان کې په غوڅ ډول په زړو سنت شويو عقايدو د بطلان کرښه تيروي.]

اوس به په کمونيزم د بورژوازي تورونه يو خواته کېږدو. د کارګري انقلاب لومړی ګام دا دی چې پرولتاريا خپل حاکميت ثابت او ډموکراسي منځته راوړي. پرولتاريا خپل حاکميت په کار اچوي او ورو ورو د بورژوازي څخه پانګه اخلي، ټول توليدي وسايل د دولت [ هغه پرولتاريا چې د حاکمې طبقې پحيث سره راټول شوي دي ] په لاس کې ورکوي. توليدي ځواکونو ته ژر تر ژره وده ورکوي. دا کار طبعاً په لومړي درجه د هغو سختو او قهر آمېزه حملو پواسطه سر ته رسېږي کوم چې د بورژوازي د مالکيت په حقوقو او توليدي مناسباتو باندي تر سره کېږي.[ ياني د يادو حملو پواسطه په لومړي سر کې بورژوازي مناسبات له منځه وړي/ خصوصي مالکيت له منځه وړي.] دا تدبيرونه چې د اقتصادي نقطې نظره غير کافي برېښي ورځ په ورځ زيات او د حرکت په جريان کې د خپلو حدودو څخه تجاوز کوي او بالاخره داسي يو ضرورت ګرځي چې د هغې پوسيله ټول توليدي طرز بدليږي. دا تدبيرونه د مختلفو دولتونو لپاره بېل دي. مګر د پرمختللو دولتونو د پاره دا لاندي تدبيرونه په عمومي ډول د تطبيق وړ دي...

۱- د ځمکوالو څخه د ځمکې د مالکيت اخيستل او محصول يې دولتي لګښتونو ته تخصيصول.

۲- د ډېري تصاعدي مالي وضع کول.

۳- د ميراث له منځه وړل.

۴- د ټولو مهاجرينو او باغيانو د مالکيت ضبطول.

۵-د دولتي پانګي او مطلق انحصار لرونکي دولتي ملي بانک پوسيله د مالي اعتبارونو تمرکز.

۶-د دولت په لاس کې د لېږد را لېږد وسائلو تمرکز.

۷-د دولتي کارخانو او توليدي اوزارو ډېرول او د يوې عمومي کړنلارې له مخې د بايرو ځمکو بيا رغونه.

۸-د ټولو لپاره د ورته کار اجباري کول، د صنعتي ځواک رامنځته کول په ځانګړي ډول د کرنې لپاره.

۹-د کرنې او صنعت مخلوطول او په پراوېزه توګه د ښارونو او بانډو تر منځ د توپيرونو له منځه وړل.

۱۰-ټولو ماشومانو لپاره د وړيا زده کړو تامينول، د اوس په څېر په کارخانو کې د ماشومانو د کار منع او داسې نور...

هر کله چې طبقاتي توپيرونه د ودې او پرمختګ په جريان کې له منځه ولاړ شي او توليد د يوې پراخې ډلې په لاس کې چې ټول ولس پکې شامل دی، تمرکز ومومي نو عمومي قدرت هم خپل سياسي کرکټر بدلوي. ځکه چې د سياسي قدرت سمه مانا د يوې طبقې د هغه منظم او متشکل قدرت څخه عبارت ده چې د بلې طبقې د زبېښلو لپاره يې پکاروي. کله چې پرولتاريا د خپلې مبارزې په لړ کې چې د بورژوازي په وړاندې يې کوي – خپل ځان د يوې طبقې په‌حيث جوړوي. کله چې د انقلاب پوسيله خپل ځان حاکمه طبقه وګرځوي او د حاکمې طبقې په‌حيث زاړه توليدي مناسبات په شدت او قهرېيزه بڼه ړنګوي. نو د طبقاتي تضادونو د شتون شرايط او په عمومي توګه سره طبقې ورکېږي چې په کې نتيجه د دوی خپل حاکميت هم د طبقې په‌حيث له منځه ځي. د زړې بورژوازي ټولنې په کنډوالو او د هغه د طبقاتو او طبقاتي تضادونو پر ځای يوه داسې نوې ټولنه جوړېږي چې په هغه کې د هر يوه غړي وده او پرمختګ د ټولو غړو وده او پرمختګ شرط دی.

# دریم څپرکی

## سوسیالیستي او کمونیستي ادبیات

--------------------------------------------------

### ۱-ارتجاعي سوسیالیسم

**__الف- فیوډالي سوسیالیسم:__** فرانسوي او انګلیسي ارستوکراسي د خپل تاریخي موقف له مخې دېته مجبوره ۋ چې ډېري هجوي مقالې د مدرنی بورژوازي ټولنې په وړاندي ولیکي. اشراف[اریستوکراتان] یو ځل بیا د فرانسې د (۱۸۳۰م) کال د جولای انقلاب او د انګلستان په اصلاحي حرکت کې د خپل دښمن (بورژوازي) مات او مغلوبه شول او د ادبي مبارزي ماسواء هغوی ته د سیاسي مبارزې په نامه څه نه ۋ پاتي...[یوازي ادبي مبارزه ورپاتي شوه] خو د ادبي مبارزي په ساحه کې هم د پخوانیو شعارونو تکرار چې د شاهي نظام د راتګ په وخت کې یې چلند درلود اوس ناشوني او ناچله ول...

ارستوکراتي د دې لپاره چې خلک په ځان راټول کړي – داسي یې ښودل چې نور نو د خپلو شخصي ګټو پخاطر نه بلکې د زیېښاک شوي کارګري طبقې د ګټو پخاطر د بورژوازی په وړاندي سره تنظیم او راپورته شوي دي. هغوی په دې خوښ ول چې د خپل نوي بادار(بورژوازي) پسی مسخرې او چټیات ووایي او د یوه ډېر بد حالت وړاندوېینه یې کوله؟؟؟

په دې ډول فیوډالي سوسیالیزم چې د شکایت – هجو – تېرو خوړو خاطرو او راتلونکو خطرونو یو مخلوط ۋ منځته راغلی. که څه هم د دوی ترخه او چیچونکې انتقادونه کله کله د غشو په قسم د بورژوازي په زړه لګېدل مګر په نوي تاریخي جریان د نه پوهېدو له امله یې تل ناوړه شکل ځانته غوره کاوه. د دې لپاره چې ولس په ځان پسی راټول کړي د پرولتاریا کچکول یې د بیرغ په شان راپورته کړ مګر هر څومره چې خلک د دوی پسی تلل د دوی پر شا او لکی باندي به یې همغه د فیوډالي خاندان شعارونه لیدل چې او ریشخند خنداه به یې وربانديکوله او بېرته به ترې ګرځېدل.

که چېري دا ثبوتوي چې د دوی د زیېښاک [زیېښاک] ډول د بورژوازي د زیېښاک په څېر نه ۋ، نو دا هیروي چې دوی په تمامه مانا د نن ورځی وضعیت او شرایطو اپوټه(برعکس) زیېښاک کاۋ...

که چېرې غواړي ثبوت کړي چې د دوی تر حاکمیت لاندې مُډرنه پرولتاریا موجوده نه وه نو هېروي چې مُډرنه بورژوازي د فیوډالي نظام یو خامخا زېږېدونکی بچی ؤ...[کله چې دوی وایې: چې د دوی د حاکمیت په وخت کې مډُرنی پرولتاریا شتون نه درلود نو یوازې دا نکته له یاده باسی چې همدا بورژوازي د دوی د ټولنیز نظام ثمره ده...]

دوی حتا د خپل انتقاد ارتجاعي بڼه هیڅ نه پټوي او وایي چې د بورژوازي تر حاکمیت لاندې یوه داسې طبقه وزېږېده چې د پخوانی ټولنې نظام په هوا الوزوي... دوی په بورژوازي باندې انتقاد کوي چې نه یوازې پرولتاریا یې راپیدا کړې بلکې یوه انقلابي طبقه(پرولتاریا) یې منځته راوړې ده. نو له دې کبله په سیاسي عمل کې د هر قسم ظلم څخه د پرولتاریا په وړاندې کار اخلي او خپل عادي ژوند کې د ټولو خپلو پوچو خبرو او تېزو شعارونو سره سره کوشش کوي چې هیڅ فرصت د زرینو منو او مینه، محبت او وفا د پلورل شویو وړیو، جغندرو او خولو(یو قسم الکول دي) د ګټې د راټولولو په وړاندې د لاسه ورنکړي...

لکه څنګه چې پاپان[دکلیسا ملایان] څنګ په څنګ د فیوډالانو سره روان ول همدغسی پاپي(عیسوي) سوسیالیزم د فیوډالي سوسیالیزم سره! [ تر دې به نور نو هوسا کار څه وي؟ چې د عیسویت چوکاټ ته سوسیالیستي رنګ ورکړل شي! څکه مسیحیت هم د خصوصي مالکیت، زنا او دولت په وړاندې پا نه څېده؟]

**ب- کوچنۍ بورژوا سوسیالیزم:** فیوډالي ارستوکراتي یوازینی طبقه نه ده چې د بورژوازي پواسطه نسکوره او د ژوند شرایط ئې له منځه لاړل.

په هغو هیوادونو کې چې مُډرن مدنیت زیات پرمختګ وکړ - یوه نوې کوچنۍ بورژوازي راوزېږېده چې د پرولتاریا او بورژوازي تر منځ د زوړند(نوسان) حالت کې ده او د بورژوازي ټولنې د بشپړولو پحیث پرلپسې د زېږېدو په حال کې ده...خو د سیالۍ ځنځیر یې د پرولتاریاو خواته کاږي. هغوی وینې چې د لوی صنعت پرمختګ سره به دوی د یوې مستقلې برخې پحیث له منځه لاړه شي...

په ځینو هیوادونو لکه فرانسه کې چې د وګړو زیاته برخه یې بزګرانو جوړولوله طبعیي خبره وه هغو ادیبانو چې د بورژوازي په وړاندې یې د پرولتاریا څخه د وړې بورژوازي او کوچنۍ بزګري لیدلوری له مخې دفاع کوله...[په دې مانا چې د پرولتاریاو مدافعین د وړې بورژوازي او کوچنۍ بزګري طبقې څخه راپورته شوي ول

چې د دوی انتقادي افکار هم د یاد طبقاتي بېز څخه اغېزمن ول.] نو همدا ؤ چې د وړې بورژوازي سوسیالیزم رامنځته شو.چې ښه نمونه یې هم سیسموندېي دی نوموړئ د دې ډول ادبیاتو په لیکلو کې نه یوازي د فرانسې بلکې د انګلستان لپاره هم ډېر د ارزښت وړ او اوله درجه ځای لري...

دې سوسیالیزم د نن ورځې تولیدي مناسباتو شته تضادونه ژور وڅېړل او د اقتصاد پوهانو بې ځایه ستاینې یې ډېرې ښې بربنډې او روښانه کړې. دوی د ماشین ویجاړونکي خوا د کار وېش یاني د پانګې او ځمکې تمرکز ، اضافي تولید، کړکېچونه د وړې بورژوازي او بزګرانو حتمي انقراض(ماتېدل/له ماتي سره مخېدل)، د پرولتاریا بې وزلي د تولید ګډوډي(انارشي)، د ثروت ناعادلانه وېش، د ملتونو تر منځ ویجاړوونکی صنعتي جګړه د پخواني رسم، رواج، فامیلي او ملیتي زړو مناسباتو پاشل او له منځه تګ یې یه ثبوت رسولي دي. خو دا سوسیالیزم پخپله اثباتي محتواء کې غواړي چې د تولید پخواني اوزار ، مبادله او ورسره پخواني د مالکیت مناسبات او پخوانی ټولنه جوړول غواړي. او یا هم نني تولیدي مناسبات او مبادله په زوره د مالکیت پخوانیو مناسباتو کې چې د اوسنیو نویو وسایلو پوسیله پاشل شوي، ځای پر ځای کړي. دا سوسیالیزم په دواړو حالاتو کې هم ارتجاعي دی او هم خیالي...

لنډه دا چې یاد سوسیالیزم د په مانوفاکتورونو کې د صنفي سازمانونو (د کسب ګرو اتحادیې) او په کلیو باندېو کې د پلار سالارئ اقتصاد بیا رغونه ده...

**<u>ج – آلماني یا حقیقي سوسیالیزم:</u>** د فرانسې سوسیالیسي او کمونیستي ادبیات چې د بورژوازئ سختو ناوړو مناسباتو لاندي منځته راغلی او د بورژوازئ د حاکمیت پر ضد د مبارزې ادبي اظهاروو – په یوه داسي وخت کې آلمان ته رانقل شول چې په هغه وخت کې د آلمان بورژوزاي د فیوډالي مطلقه سیستم سره په مبارزه کې ؤ. د آلمان فیلسوفانو او نیمچه فلسوفانو دا ادبیات زدړه کړل خو ځیني هېره شوه چې د دې ادبیاتو سره سم د فرانسې د ژوندانه مادي مناسبات آلمان ته نه ؤ رانقل شوي. نو د آلمان د اوضاع سره دې فرانسوي ادبیاتو خپل علمي ارزښت له لاسه ورکړ او یوازي ادبي اړخ یې پاتي شو. د بېلګې په توګه د فرانسې د اول انقلاب غوښتنې د آلمان د فلاسفوو د پاره یوازي د عمومي (عملي عقل) غوښتنې او د فرانسې د انقلابي بورژوازئ د ارادې اظهار او غوښتنې د دوی په سترګو کې حقیقي انساني غوښتني وې.

د آلمان د اديبانو يوازېنی کار دا شو چې د خپل فکري دريځ سره فرانسوي نوي افکار او ايډيال برابر کړي. د آلمان د اديبانو او فيسلوفانو د فرانسې دليکل شويو متنونو لکه د پيسو او د بورژوازي دولت تر انتقاد لاندی يې (د انساني ماهيت بېگانه کېدل) او (کُلي تجريدي سلطې الغاء) وليکل. دا قسم فلسفي متنونه يې د فرانسې انکشاف ته ورننه ايستل او دېته يې د ( عمل فلسفه) – (حقيقي سوسياليزم) – (د آلماني سوسياليزم علم) او د (سوسياليز فلسفي استدلال) ويل.

په دې ډول فرانسوي سوسياليستي – کمونيستي ادبيات د آلمانيانو د لاسه خوسا او داسي حد ته ورسېدل چې د طبقاتي مبارزې خواص يې له لاسه ورکړل. د واقعي اړتياؤ پر ځای يې د حقيقي اړتياؤ – د پرولتاريا د گټو پر ځای يې د انسان گټې – د هغه انسان گټې چې طبقاتي بېز نلري – غوښتلی. په دې وخت کې د آلمان(پروس) د بورژوازي مبارزه د مطلقه فيوډالي حکومت په وړاندي ټينگه شوه. دې وخت کې حقيقي سوسياليزم د ليبرال بورژوازي په مخالف د ليبراليزم – آزاد رقابت – د مطبوعاتو آزادي – د بورژوازي حقونو او انتخابي دولت پر ضد راپورته او پرگنو ته نصيحت کاوه چې بورژوازي نظام کې به هر څه دلاسه ورکړي او هيڅ به هم لاسته رانه وړي. دوی په لازم وخت کې هېره کړه چې دا فرانسوي انتقاد په اصل کې بورژوازي ته متوجه دی په داسي حال کې چې په آلمان کې فيوالي سيستم برقراره ؤ.

که د آلمان سوسياليزم د شرايطو د نه پېژندلو له کبله يوې خوا د آلمان د مطلقه حکومت سره يو ځای د بورژوازي او پرولتاريا حرکت په ضد (په عيني ډول) راولاړ سو نو د بلی خوا يې د مرتجعينو او وړې بورژوازي گټې ساتلی. دې سوسياليزم چې د بورژوازي د سياسي او صنعتي حاکميت لاندي يې له يوې خوا د پانگې د تمرکز او له بلی خوا د پرولتاريا په انقلابي جريان کې خپل زوال ليده نو غوښتل يې چې د دواړو مخه ونيسي . د آلمان سوسياليزم نه يوازي دا چې د آلمان ملت يې يو نمونه ملت او د آلمان لنډ فکره يې عادي او نمونه انسان وباله – بلکې مستقيماً د کمونيزم په وړاندي راولاړ شو. دې سوسياليزم هرې سپکې نظرېې ته يوه پټه او لوړه سوسياليستي مانا ورکوله چې په اصل کې به يې دخپل ضد مانا لرله. لنډه دا چې خپل ځان يې تر هرې طبقاتي مبارزې لوړ گاڼه او د دې مبارزو په هکله يې ځان بې طرفه اعلانوو.

## ۲-محافظه کار یا بورژوا سوسیالیزم

د بورژوازي یوه برخه غواړي چي ټولنیز دردونه له منځه یوسي او په دې ډول د بورژازي ټولنې بقاء ته خدمت وکړي. په دې ډله کې ایکونومیستان(افراطي اقتصادیون) – بشردوستان – د کارګرو د ژوند اصلاح کوونکي او داسي نور شامل دي. چې د دې بورژوا سوسیالیزم څخه یې یو لوی سیستم جوړ کړی دی. د بېلګي په توګه د پرودون د (نیستی فلسفه) نومې کتاب یادونه کوو...

بورژوا سوسیالیستان د نوي ټولنې د ژوند شرایط له هغو مبارزو، خطرونو او جنګونو څخه خالي غواړي چې د دې ټولنې سره سم زېږېږي او وده کوي. – دوی غواړي چې د دې ټولني څخه هغه غړي وباسي چې دا ټولنه انقلابي او رانسکوروي – بورژوازي ته خپل د حاکمیت نظام تر ټولو ښه نظام برېښي.

بورژوا سوسیالیزم د خپلو تصوراتو څخه یو لوی سیستم جوړوي. کله چې زیارایستونکي د دې سوسیالیزم و برقرارولو ته رابولي، په حقیقت کې یې دېته رابولي چې دا جهان د همدارنګه پاته وی لکه څنګه چې اوس دی او تاسي خپل نفرت او د دې جهان اړوند ضد فکرونه له ماغزو وباسی. یو دویم لړ سیستماتیک مګر ډېر عملي شکل د دې سوسیالیزم دا دی چې کارګري طبقه د هر انقلابي حرکت څخه اړوي او وایي چې هیڅ کوم سیاسي بدلون دکارګرانو لپاره ګټور نه دی، بلکې یوزاینی ګټور بدلون د ژوند په مادي او اقتصادي مناسباتو کې دی. او د بدلون اړوند هغه مفهوم چې دا سوسیالیزم یې وړاندي کوي د هغه بدلون سره چې د انقلاب پوسیله ترسره کېږي هیڅ اړخ نه لګوي...بلکې یوزاي په اداری اصلاحاتو چې د همدې تولیدي مناسباتو زېږنده دي د بدلون غوښتونکي دي. چې په نتیجه کې د پانګې او اوجرتي کار تر منځ اړیکو کې هیڅ بدلون نه راځي...

بورژوا سوسیالیزم خپله حقیقي بڼه په لاندي ډول څرګندوي:

آزاده سوداګري د پرولتر په ګټه! ګمرکي ملاتړ د کارګر په ګټه! انفرادی زندان د کارګر په ګټه! او دېته ورته نور... لنډه دا چې بورژوا، بورژوا دی د کارګر په ګټه...

## ۳-انتقادي – تخیلي سوسیالیزم او کمونیزم

موږ دلته د هغو لیکنو په باب چې ټولو انقلابونو کې د پرولتاریاؤ د غوښتنو بیانونکي دي(د بابف لیکنې) خبري نه کوو.

د پرولتاریاؤ لومړنۍ هڅې چې د فیوډالي ټولنې د ویجاړېدو په مرحله کې یې خپلو طبقاتي ګټو ته د رسېدو په موخه کولې ځکه ماتي سره مخ شوې چې یوي خوا خپله پرولتاریا وده نه وه کړي او له بلی خوا د دې ازادۍ هغه مادي شرایط چې د بورژوازۍ ټولنې محصول دی نیمګړي وه. هغه انقلابي ادبیات چې په لومړي ځل د پرولتاریا د حرکت/غورځنګونو سره راجوت شول د مضمون په لحاظ ارتجاعي ول - ځکه د دوی لارښونه، پرهیزګاري او عمومي مساویتوب ؤ.

د سوسیالیزم او کمونیزم اصلي سیستمونه یاني د سین سیمون، فوریه او اوئن سیستمونه په یوه داسی دوره کې منځته راغلل چې د پرولتاریا او بورژوازي تر منځ مبارزې زیاته وده نه وه کړې.

دا حقیقت دی چې د دې سیستمونو مخترعین طبقاتي تضادونه او د دې تضادونو ویجاړوونکي اغېز پر دې ټولنه باندي شه ویني – خو د پرولتاریا لپاره هیڅ کوم مستقیم تاریخي فعالیت او د دوی سیاسی خوځښت ته په ځانګړي توګه قائل نه دي – لکه څنګه چې طبقاتي تضادونه د صنعت د پرمختګ سره سمه وده کوي نو دوی نشوای کولای چې د پرولتاریا د آزادۍ مادي شرایط ومومې نو د دې شرایطو د منځته راوستو لپاره دوی ټولنیز علم او ټولنیز قوانین لټوي.

د دوی لپاره د ټولنیز فعالیت پر ځای خپله اختراعي ځواک – د ژغورنې د تاریخي شرایطو په ځای تخیلي وړاندیزونه – د پرولتاریا د ورو ورو منځته راتلونکې طبقاتي سازمان پر ځای د ټولنې یو ځانګړی سازمان ارزښت لري. د دوی په نزد د نړۍ راتلونکی تاریخ یوزاي ټولنیز تبلیغ او د دوی د پلانونو دعملي کولو څخه عبارت دی.

دوی پوهېږي چې خپلو نقشو کې د کارګري رنځ وړونکي طبقې څخه دفاع کوي. اصولاً پرولتاریا یوازي د دې نقطې نظره چې رنځ وړنکي طبقه ده د هغوی لپاره شتون لري...

د طبقاتي مبارزې نارسېدلی شکل[خامه بڼه] او د دوی د ژوند وضع د دې لامل ګرځي چې خپل ځان د هر ډول طبقاتي تضاد څخه لوړ او بهتر وګڼي. دوی غواړي چې د ټولنې د ټولو غړو د ژوند سویه حتی د هغو کسانو هم چې بهترين ژوند لري، پورته کړي. له دې کبله ټوله ټولنه او ډېر وخت حاکمه طبقه د خپلو پلانونو د عملي کولو په موخه رابولي – دوی د هر سياسي او انقلابي عمل مخالفت کوي او غواړي چې خپلو موخو ته يوازې په مسالمت آمېزه توګه ورسېږي – دا سوسياليستي او کمونيستي ادبيات يوه انتقادي خوا هم لري. چې د موجوده ټولنې په ټولو اساساتو باندې حمله کوي. مثلاً د ښارونو او بانډو تر منځ د شته تضادونو له منځه وړل، د کورنۍ لغوه، د فردي پانګو ټولونې سرچينو وچول او د دولت اړول د توليدي امورو په ساده اداري دستګاه باندي...[په ساده اداري دستګاه باندې د دولت د اوسنۍ بڼې اړول]

ښکاري چې دا ټولې جملې د طبقاتي تضادونو نشتوالی غواړي – د هغه طبقاتي تضادونو نشتوالی چې نن په وده کې دي او دوی يې په يوه مبهم او نامعلومه بڼه پېژني – له دې کبله د طبقاتي تضاد دغه مبهم شکل يو تخيلي مفهوم لري. انتقادي او تخيلي سوسياليزم او کمونيزم د تاريخي بشپړتيا او ودې سره يو اپوټه(معکوس) تناسب لري – په کومه اندازه چې طبقاتي مبارزه پراخوالی مومې او ځانګړی شکل ځانته نيسي، په هماغه اندازه دغه تخيلي کوششونه د مبارزې هر ډول عملي او تيوريکي ارزښت له لاسه ورکوي. [د تخيلي – انتقادي سوسياليزم او کمونيزم ارزښت د تاريخ له ودې له سير سره معکوس تناسب لري: څومره چې طبقاتي مبارزه پراخوالی مومې او روښانه بڼه خپلوي، دا سيستم(تخيلي - انتقادي سوسياليزم او کمونيزم په تخيلي عالم کې د دې مبارزې څخه په واټن نيولو ، هر ډول تيوريکي او پراتيکي ارزښت دلاسه ورکوي.]

سره له دې چې د دې سسيستم بنسټګر و انقلابي خصلتونه لرل خو هغه ډلې چې د دوی له شاګردانو څخه رامنځته شوی دي، تل ارتجاعي بڼه لري. دوی پرته له دې چې د پرولتاريا تاريخي بدلون په نظر کې ونيسي په ډېره جدي بڼه د خپلو ښوونکو زړو خبرو پسې کلک نښلي چې له همدې کبله هڅه کوي تر څو د طبقاتي مبارزې سپېڅلتيا او تېره والی له منځه يوسي او تضادونه سره پخلا کړي. دوی په دې تمه دي چې خپلو ټولينزيو ويناواو او نصحيتونو ته د آزمويلو پوسيله د عمل جامه ور واغوندي، ځانته ځانته فالانسرتونه(د سوسيالستي کالونيو عنوان) جوړ کړي، داخلي کالونۍ(خيالي هيوادونه چې هلته سوسياليزم – کمونيزم رامنځته شي) تاسيس کړي، وړې ايکاري(د بيت المقدس جيبي نسخې) رامنځته کړي چې د دې ټولو خيالي

مانیو د جوړولو لپاره یې ځانونه د بورژوازي زړونو او زړو ته اړ ګڼل - مراجعه ورته وکړي. دوی لړ لړ د ارتجاعي یا محافظه کارو سوسیالیستانو لور ته چې مخکینیو مخونو کې مو ورته اشاره وکړه، سقوط کوي. په همدې اساس هغوی د کارګرانو د هر ډول سیاسي غورځنګ په وړاندي سره د تولی کرکې ودریږي.

د بېلګی په توګه: انګلستان کې د اوئن پلویانو مخالفت د چارټیستانو سره او فرانسه کې د فورئه پلویانو ودرېدل د رفرمیستانو په وړاندي...

## څلورم څپرکی

## د اپوزیسیون د مختلفو ګوندونو په وړاندې د کمونیستانو دریځ

---

په دویم څپرکي کې د کارګري ګوندونو په وړاندې د کمونیستانو د دریځ څرنګوالی روښانه شو. یاني د هغوی موضع په انګلستان کې د چارټیستانو او په شمالي امریکا کې د ارضي اصلاح غوښتونکو په وړاندې روښانه ده.

کمونیستان د کارګری طبقې د اوسنیو ګټو او موخو لپاره مبارزه کوي،او د اوسني خوځښت/غورځنګ/حرکت تر څنګ د راتلونکي غورځنګ څخه هم دفاع کوي.[راتلونکی نه هیروی]

فرانسه کې. کمونیستان د راډیکال او محافظه کاري بورژوازي په وړاندې مبارزه کې د ډموکراټ – سوسیالیست ګوند سره یو ځای کېږي البته پرته له دې چې د دوی د غورو دربو په وړاندې چې د بورژوازي انقلاب څخه یې په میراث وړي دي ، د خپل انتقاد له حق څخه تېر او بې تنقیده چلند غوره کړي.

په سویس کې هغوی(کمونیستان) له راډیکالانو څخه ملاتړ کوي، پرته له دې چې له نظره دا وغورځوي چې دا ګوند له متضادو عناصرو څخه ترکیب شوی دی: یوه برخه یې فرانسوي سبک ته ورته ډموکرات سوسیالیستان او بله برخه یې راډیکال بورژوازي تشکیلوي.

د لهیستانیانو منځ کې کمونیستانو له هغه ګوند څخه ملاتړ کوي چې ارضي/ځمکنۍ/کرنیز انقلاب د ملي ژغورنې شرط ګڼي. یاني له هماغه ګوند څخه چې کراکوی نومې سیمه کې یې د ۱۸۴۶ م کال پاڅون ترسره کړئ ؤ.

په آلمان کې تر کومه چې بورژوازي په انقلابي بڼه عمل کوي نو کمونیست ګوند هم د مطلقه سلطنت، فیوډالي ځمکني مالکیت او ارتجاعي وړې بورژوازي په وړاندې له بورژوازي څخه ملاتړ او مبارزه کوي... خو د آلمان کمونیست ګوند هیڅکله هم له دې څخه لاس نه اخلي چې کارګرانو ته دا وښایي چې د بورژوازي او پرولتاریا تر منځ نه پخلاکېدونکي تضادونه شون لري او کله چې یې وخت راورسېږي آلماني کارګران باید له

هغو سیاسي ټولینزو شرایطو څخه د وسلې په توګه د بورژوازي په وړاندي پخپله ګټه کار واخلي چې خپله بورژوايي نظام يې رامنځته کوي او سم دم کله چې آلمان کې ارتجاعي طبقې له منځه لاړې شي وتوانېږي خپله د بورژوازي په وړاندي مبارزه پیل کړي.

کمونیستان ځکه خپل ټول پام د آلمان لور ته اړوي چې دا هیواد د بورژوازي انقلاب په درشل کې دي او دا انقلاب به د اروپا په یوه پرمختللي چاپېریال کې د هغو پرولتاریاو په مرسته چې نسبت د انګلستان د ۱۷ او فرانسې ۱۸ پېړئ پرولتاریاو ته پرمختللي دي، تر سره کړي. نو په دې اساس د آلمان بورژوازي انقلاب کولای شي چې پرته له کومې واسطې د پرولتري انقلاب پیلامه وګرځي.

لنډه دا چې هر چېرته له هر هغه انقلابي غورځنګ څخه چې د موجوده سیاسي او ټولنیز نظام په وړاندي وي، ملاتړ کوي. کمونیستان په ټولو دغو غورځنګونو کې د مالکیت مسلې ته ماسواء له دې چې لږ یا ډېر پرمختللی شکل لري د غورځنګ د بنسټیزي مسلې پحیث ورته لومړئ مقام ورکوي.

په پای کې کمونیستان هر چېرته د ټولو هیوادونو د ډموکرات ګوندونو تر منځ د یووالي د راوستلو په موخه هیڅې کوي.

کمونیستان د خپلو نظریو او نیتونو پټول ننګ ګڼي او په ښکاره اعلانوي چې د هغوی د موخو تحقق یوزاي په قهریزه بڼه د موجوده ټولنیز نظام په ړنګولو سره پلي کېږي. پرېږدی چې فرمان ورکوونکي/واکمني/حاکمې طبقې د کمونستي انقلاب په وړاندي په لړزه شي. پرولتاریا په دې انقلاب کې پرته له خپلو زنځیرونو نور څه د لاسه نه ورکوي خو ټول جهان به ترلاسه کړي...

## مخ په وړاندي د خلقي – پرولتري انقلاب په لور!!!